مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال
۲۰۲/۰۹/۰۳

# وینښ ملتونه او د ملي سرچینو ساتنه

د رینیسانس پر فرهنګي بستر د علمي او تکنولوژیک انقلاب په پایله کې صنعتي انقلاب د بشریت د تاریخ تګلوری بدل کړ.

له صنعتي انقلاب سره سم د سرچینو (کانونو او خامو موادو) اړتیا د سیاسي واکمنۍ د تر ټولو مهم بنسټ په توګه وپېژندل شوه. اروپایان د صنعتي انقلاب خاوندان وو، په خامو توکیو او طبیعي سرچینو پسې راووتل، په دې توګه د «ښکېلاک = استعمار» او «زبېښاک= استثمار» زمانه پیل شوه، د هیند په لټون پسې د امریکا لویه وچه وپېژندل شوه او په دویم پړاو کې زرینه مرغۍ (هیندوستان) لاندې شو او د افریقا لویه وچه یې له عاج، الماسو، سروزرو، ځنګلونو، ژویو... او ان بشري ځواکه تشه کړه.

هیندوستان لوټ شو، د افریقا الماس و سره زر غلا شول او د ښکېلاک و زبېښاک ښامار تر نړۍ ګرد راتاوشو . تر همدې تاریخي پړاو روسته هوښیارو ملتونو د نورو سرچینو راخپلولو او په خوب ویدو ملتونو د خپلو سرچینو پردي کولو او پلورلو بهیرونه راپیل کړل.

په منځني ختیځ کې د انرژي (تیلو او ګازو) تر موندلو روسته ښکېلاک و زبېښاک خپل نېښونه ورته راوغځول او یوه لویه لوبه پیل شوه.

په نولسمه او شلمه پېړۍ کې هر ملت چې راویښېده، لومړۍ پوښتنه یې د خپلو سرچینو کوله: (څنګه، ولې، د چاپه لاس، په څومره ملي ګټه، د څه لپاره او په کومه بڼه) استخراجیږي؟

دا وړه پوښتنه نه وه، ډېرې د سرچینو غلې واکمنۍ یې راوپرځولې او ګڼ کېڼ و ملتپال نهضتونه یې راهسک کړل . مصر د سویز کانال ورخپل کړ او عربي ملتپالنې پر خپلو اینرژیتیکو سرچینو د واک زیاتولو هڅې راپیل کړې . تونس، لیبیا، یمن او نور راوښورېدل او نویو راپورته شویو عربي هېوادونو (امارات، قطر، کویت...) د خپلو سرچینو په مټ د موډېرنیتي لار ونیوله، چې منځټکی یې د سرچینو د ګټې ملي کول وو.

د ۱۳۳۲ لمریز کال د اسد په ۲۸ مه ایراني ملتپالو او چپیانو کودتاه وکړه، د ایران د انقلاب روح همدغه پېښه وه او اصلي غوښتنه یې د نفتو د صنعت ملي کول وو.

په دې ټولو انقلابونو کې خلکو ویل:

طبیعي سرچینې د خلکو ملي ملکیت دی او خلک یې باید د راویستلو، پروسس او لګښت واک ولري. همدا یعني ولسواکي، یعني ریښتینې جمهوریت.

خبره په هغه ملي میکانیزم کې وه، چې هر ښاروند داده وي، چې په ملي سرچینو کې یې برخه خوندي ده او د ده د هوسا ژوند لپاره کارول کیږي.

نن سبا افریقا تشه کړای شوې ده، منځنی ختیځ د خپلو اینرژیتیکو زېرمو روستنیو غوړپونو ته ناست دی، صنعتي نړۍ د تکنولوژۍ په بریښنایي کولو پسې هڅه کوي او رواني خوړې اوبه تر ټولو په ګرانبیه سرچینو بدلیږي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

افغانستان مهم دی:

د نړۍ ناڅاپه پام شو، چي د نوي زماني له اړتياوو سره سم يوه لويه زېرمه او خزانه لا همداسي ډکه پاتي ده، چي نوم يي دی افغانستان.

د دغي لويي خزاني د راخپلولو يوه اساني په دې کي ده، چي ولس يي لا ويښ او روښانه نه دی. خپل ملتپال او وطنپال لا هم تکفيروي او د تکفير استبدادي دستګاه په کمه بيه ځان پلوري.

له رنګارنګ کانونو ډک دغه هېواد ژر راتشېدلای شي، خو ببېره په کار ده، تر دې مخکي چي ملتپال او وطنپرست ځواکونه سره يو شي او ملي ويښتيا و روښانتيا راپيل کړي، بايد سرچيني يي لوټ شي. کيسه راپيل شوه او نن سبا يي تاسو خبرونه اورئ.

تکفير شوي افغان ملتپال و وطنپرستان تر هغو چي ځان له تکفير څخه سپينوي، افغانستان به د افريقا په شان تش شوی وي او د سړک پر سر به د وږي افغان ماشوم ځنکدن ته ټېوسان شېبې شماري، چي مړ شي او دی يي غوښي وخوري.

که د خپلو سرچينو واک «ملي» نه کړو او ولس د خپلو طبيعي زېرمو واک پخپله ويښتيا و روښانتيا ترلاسه نه کړي، نه يوازي دا، چي له دې سرچينو به خير يونه سو، بلکي د سرچينو د چور او تالان قربانيان به هم يو.
د الماسو او سروزرو پر خزانو ناستو افريقايي ببوزله هېوادونو برخليک راروان دی، چي ميليونونه انسانان يي له لوږي، ايډس او روسته پاتي والي و بېتعليمی څخه هره ورځ مري، خو هيڅوک يي لا خبرونه هم نه خپروي .

هو!

موږ همدا نن او سبا د خپلو طبيعي سرچينو او شتمنيو قربانيان يو!

که راويښ، روښانه او سره يولاس نه شو او راونه خوځيږو!

**ويښتيا، روښانتيا او بدلون**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ